AJSO
Afghanistan Journalists
Support Organization

په افغانستان کې د سځینه خبریالانو وضعیت په هکله تحلیلي راپور

۱۴۰۲ کال د زمري ۲۷مه

افغان رسنۍ، رسنوالۍ، پرون او نن

له هغې ورځې دوه ویشت کلونه واوښتل، چې سهار مهال یوه مېرمن په چادري کې د راډیو افغانستان سټدیو ته ننوتله او تر کلونو کلونو وروسته یې ښځینه غږ د راډیو له څپو سره په هېواد کې خپور شو. دا غږ یوه حادثه وه، چې هغه مهال یې په مانا افغانان ډېرښه پوهېدل، دا د طالبانو د لومړۍ واکمنۍ تر راپرځولو وروسته لومړنی سهار و.

ورپسې په لومړنیو شېبو کې، چې په بند و زولنو کې لوبدلی ملي تلویزیون بیا خپرونې پیل کړې، یوه مېرمن یې په پرده رابښکاره شوه. هغه مهال دغو دوو پېښو نړیوال غبرګونونه او سېمبولیک هرکلي راوپارول.

له همدې شېبو څخه په افغان رسنیو کې د ښځو فعال حضور پیل شو او ژر افغانستان د ایکي یوازې ملي راډیو تلویزیون ترڅنګ ګڼې نورې رسنۍ ومونډلې، چې د ځینو یې نړدې نیمایي رسنوالې مېرمنې او پېغلې نجونې وې.

یوه له هغو ډګرونو څخه، چې د افغان مېرمنو لپاره په کې کار کول په زړه پورې و، د ژورنالیزم ډګر و. د هېواد په پوهنتونونو کې زرګونه پېغلو ژورنالیزم لوست، تر دې ورهاخوا د نړیوالو بنسټونو او رسنیو له خوا دوی ته روزنیز پروګرامونه پیل شول، چې ځینې یې په عملي ډګر کې خورا ګټور وو. ځینې مېرمنې په ژورنالیزم کې د لا لوړو زدکړو لپاره له هېواده بهر ولاړې او ویلای شو، چې په تېرو شلو کلونو کې د تخصص تر بریده ځینو مېرمنو په دغې څانګې کې وروزل شوې.

ښځینه ژورنالیستانې د مدني ټولنې فعالې غړې وې، په سیاست او پارلمان کې ګڼ شمېر مطرح او پېژندل شوې افغان مېرمنې هغه څوک وې، چې په رسنیز ډګر کې شهرت ته رسېدلې وې. تصادفي نه وه، چې په رسنیو کې د ښځو د حقونو او بشري حقونو په ډګر کې پاموړ فعالیتونه همدغو مېرمنو او نجونو کول. له کورنۍ چاپېریال څخه رانیولې بیا د زدکړو، کار، سوداګرۍ، سیاست، ټولنیزو چارو او نړیوالو استازولیو کې د فعالو مېرمنو شمېر مخ په زیاتېدو و، دې ټولو ډګرونو ته د ښځو د پرمختیا لاره له رسنیو تېرېده. ژر داسې رسنۍ هم فعالې شوې، چې د ښځینه وو لپاره به ښځینه رسنوالو مدیریت کولې. هلته ښځینه فعالانو په هره برخه کې کار کاوه، مسئول مدیریت، پرودوسیري، خبریالي، ویاندویي، تخنیکي چارې، فلمبرداري، څېړنه، ایډېټ، چاپ او نورې چارې.

د افغان خبریالانو د مدافع ټولنو د شمېر له مخې، د جمهوریت تر سقوط پورې ۱۴۰۲ تنه ښځینه ژورنالیستانو او رسنوالو د رسنیو په سکتور کې کار کاوه، چې تر سقوط روسته دغه شمېره ۴۶۳ ته را ولوېده. افغان ښځینه ژورنالیستانو ګڼې ملي او نړیوالې جایزې وګټلې، ځینې یې د نړۍ ترټولو زړورې خبریالانې ونومول شوې.

دا هر څه اسانه نه وو. څه پېغلې او مېرمنې د رسنیو د ازادۍ او د ښځو د فعالیت په لاره کې ووژل شوې، ټپیانې شوې، وسوزېدې، تیزاب وروشیندل شول، وګواښل شوې، ووهل شوې، پر کور کېنول شوې، خو مبارزه یې روانه وه او له رسنیز فعالیت سره هممهاله یې د راروانو نسلونو لپاره له حقوقي او قانوني پلوه د مصئونیت د تضمین لپاره هم هڅې کولې.

<u>د جمهوریت په شلو کلونو کې په رسنیو کې د ښځو حضور او فعالیت درې حقونو تمثیلول:</u>

۱ـ د بڼځو ازادي
۲- د بيان ازادي
۳- د رسنيو ازادي

د بڼــځو فعاليت يوازې په کابل او لويو بڼــارونو کې محدود نه و. ان د لرې پرتې ولايتونو او حتی له دوديز او فرهنګي پلوه په خورا ځانساتو (محافظه کارو) سيمو کې هم د بڼځو رسنيز فعاليت محسوسېده. په رسنيو کې د افغان مېرمنو زړور فعاليت دا څرګندوله، چې د بڼځو زدکړه، کار او فعاليت د افغانانو له نظره ممنوع نه دی، نه د دين له اړخه او نه هم د افغاني دود دستور له نظره.

په رسنيو کې فعالو افغان نجونو او مېرمنو پر نړيوالو ستېژونو هم د خپلو خلکو استازولي وکړه، د افغان مېرمنو ســتونزې و ربړې يې د نړيوالو ترغورڼونو ورســولې او د (ازادۍ) او (حق) لپاره يې غږ پورته کړ. تر يوې مودې، چې د نړيوالو ګټې د دوی په ملاتړ کې نغښتې وې، بڼه تود هرکلی يې وشو او غږ يې واوربدل شو، خو ارمان چې دا زرينه بريا ډېره ونه پاېيدله.

که څه هم د جمهوريت تر را پرځېدو مخکې، هغه مهال، چې په دوحه کې د امريکا او طالبانو ترمنځ خبرې اترې پيل شــوې، په عامه افکارو او ان نړيوالو کړيو کې يوه جدي اندېښــنه د افغان مېرمنو د حقونو، کار، زدکړو او ټولنيزې ونډې په اړه راپورته شــوې. په دې اړه تر ټولو زياته اندېښــنه پخپله له افغان مېرمنو سره وه. همدا مهال هم په حضــوري مجلســونو او هم په رســنيو کې دا اندېښــنې په جدي توګه د افغان مېرمنو او د بشري حقونو د فعالينو له خوا مطرح کېدې.

ګڼ شمېر خلک په دې باور وو، چې که طالبان بيا واک ته رسول کېږي، نو دوی به د بڼځينه‌وو د زدکړو، کار او ټولنيز فعاليت مخه نيسي. د ټولنې نبض او ګډ ذهنيت دا منلې وه، د افغانســتان خلکو طالبان بڼــه پېژندل. دهمدې اندېښنو پر بنسټ بڼځې د خبرو اترو د هيئتونو غړيتوب ته غوره شوې، په دغو مېرمنو کې هم له رسنيز شالید (بکګروند) څخه راپاڅېدلې مېرمنې فعالې وې.

دوی په دوحه او نورو نړيوالو خبرو اترو که په جرئت خپلې اندېښنې مطرح کړې او خبرداری يې ورکړ، چې د هر راز بې مسـئوليته چارچلن لومړنۍ قربانيانې به بڼځې وي. د طالبانو له خوا په دې برخه کې مبهم چلند کېده، ځينو يې په ژبنۍ ديپلوماســۍ کې نغښــتې ژمنې وکړې، چې د اســلامي چوکاټونو په دننه کې به د بڼځو حقونو ته پام ســاتي، خو "په اسـلامي چوکاټونو کې دننه د بڼځو حقونه" هغه څه وو، چې تر نن پورې تعريف نه شــول. هيڅوک پوه نه شــول، چې دا څه مانا؟ هغه څه چې عمل ته راغلل، د بڼــځو له وارله مخه ويړې و اندېښنې سره سم د بڼځو پر کور کېنول وو. له بڼوونځي، پوهنځي، کارغالي، ټولنيزو فعاليتونو څخه د بڼځو شړل او په کور و ګور پورې يې محدودول و.

اوس څه روان دي؟

پر رسنيز فعاليت په مجموع کې بنديزونه ورځ تر بلې زياتيږي. خپلواکو رسنيو خپلې اقتصادي سرچينې له لاســه ورکړې او تر دې ورهاخوا د دويم لامل په توګه يې د شــديدو محدوديتونو له لاســه فعاليت درولی يا حداقل ته راکوز کړی دی. ګڼ شمېر خبريالان او رسنوال له هېواد کډوال شوي او پاتې يې په سختو شرايطو کې د وتلو لارې لټوي.

په دې منځ کې تر ټولو ډېرې بڼځينه خبريالانې له ستونزو او ربړو سره مخامخ دي.

راځئ، یو شمېر هغه مستندې پېښې او چلندونه له جزئیاتو سره وڅېړو، چې د جمهوریت تر سقوط راروسته، ښځینه رسنوالې ورسره مخامخ دي.

د هېواد په ۲۱ ولایتونو کې په رسنیو کې د ښځو پر کار کولو بندیز

د افغان خبریالانو د مدافع ټولنو شـمېرې ښـیي، چې د طالبانو تر امارت جوړېدو وروسـته په ۲۱ ولایتونو؛ (بغلان، تخار، کندهار، نورسـتان، میدان وردک، دایکندي، هلمند، کندهار، روزګان، زابل، پکتیا، پکتیکا، جوزجان، فراه، غور، فاریاب، لوګر، غور، فراه، فاریاب، خوست) کې خبریالانې د کار اجازه نه لري.

د ۱۴ ولایتونو په رسنیو کې د خبري کنفرانسونو د پوښښ مخنیوی

د دغو سروې ګانو پر بنسټ، په ۱۴ ولایتونو (فاریاب، سمنګان، بامیان، غزني، خوست، پنجشیر، جوزجان، نیمروز، بغلان، بدخشـان او بلخ) کې ښـځینه خبریالانې په خبري کنفرانسـونو کې د ګډون اجازه نه لري او یوازې په شـپږو ولایتونو کې: په کابل، هرات، ننګرهار، سرپل، لغمان او بادغیس کې تر اوسـه ښـځې مخامخ په خبري کنفرانسونو له ګډون څخه راګرځول شوې نه دي، خو د جمهوري ریاست په دوره کې د ښځو لپاره د خبري کنفرانسونو د پوښښ او ګډون پر وړاندې کوم خنډ نه و.

د ښځینه خبریالانو حضور کمیږي او وزګاري زیاتېږي

د طالبانو امارت په جوړیدو سره د ښـځینه خبریالانو په شـمېر کې پاموړ کمښـت وینو، د جمهوریت پر مهال په ټول هیواد کې شاوخوا ۱۴۰۲ ښځینه خبریالانې او رسنوالې وې، خو اوس دا شمېره ۴۶۳ تنو ته رسیدلې چې ۲۸۴ تنه یې په کابل او نورو ځایونو کې فعالیت کوي او د هېواد په ولایتونو کې شـاوخوا ۸۹۹ ښـځینه خبریالانې د امنیتي ګواښـونو، د رسـنیو د اقتصـادي کمزورتیا، د معاشـونو په ورکړه کې د محدودیتونو او فرهنګي ستونزو له امله بېکاره شوې دي.

معلوماتو ته د لاسرسي نشتوالی

اطلاعاتو ته د لاسرسي په برخه کې ښـځینه خبریالانې له جدي ننګونو سره مخ دي، چې د وزارتونو ویاندان، مرسـتیالان او اکثره وزارتونه لکه پوهنې، لوړو زده کړو، کانونو، اقتصـاد او نور خبریالانو ته د معلوماتو په ورکړه کې همکاري نه کوي، زیاتره ښځینه خبریالانې د معلوماتو په ترلاسه کولو کې له نارینه همکارانو څخه مرسته غواړي.

د ژورنالیستیکي مسلکي ظرفیت نشتوالی

تر دې وړاندې د جمهوري ریاست په دوران کې علمي کادرونه او مسلکي کسان په رسنیو کې په کار بوخت وو، چې اوس یې ډېر شمېر بهر ته کډه شوي او پاتې کسان یې وروستي فارغ شوي او هغه کسان دي چې د رسـنیو په برخه کې پوره تجربه نه لري. په ورته وخت کې، د مسـلکي تجربو د ترلاسـه کولو لپاره د کار او پرکتیک مناسب چاپېریال او روزونکي هم نه شته.

د ښځینه خبریالانو پر وړاندې د تاوتریخوالي زیاتوالی

د جمهوریت په پرتله د ښـځینه خبریالانو پر وړاندې تاوتریخوالی د پام وړ زیات شـوی، په ۲۰۲۲ کال کې د ښـځینه خبریالانو پر وړاندې د تاوتریخوالي پینځلس پېښـې ثبت شـوې دي، چې په کې د نیولو، وهلو او

تاوتریخجن ناقانونه چارچلند پېښې شاملیږي. په طالباني امارت کې ښځینه خبریالانې په سړکونو کې د راپور ورکولو او لاریونونو د پوښښ پرمهال نیول کېږي.

د ښځینه خبریالانو پر وړاندې د طالبانو د امارت محدودیتونه او فرمانونه

د طالبانو د واکمنۍ له یو کال او شپږو میاشتو راهیسې دغه رژیم گام په گام د فرمانونو په صادرولو سره پر ښځینه خبریالانو د محدودیتونو کړۍ راتنگوي.

د طالبانو له نهو میاشتو واکمنۍ وروسته، د ۲۰۲۲ کال د مې تر ۲۱ پورې، د طالبانو حکومت اعلان وکړ چې په ویډیویي رسنیو کې د ښځینه ویاندانو لپاره د ماسک یا نقاب اغوستل لازمي دي. د ۲۰۲۱ په نومبر کې ، مېرمنې په تفریحي پروگرامونو کې له راڅرگندېدو منع شوې. په ورته وخت کې، د نارینه او ښځینه خبریالانو د دفترونه جلا شول.

ان چې بهر مېشتې ښځې هم باید له تلویزیونونو سره د خبرو پرمهال ماسک وټړي. ښځینه خبریالانې له نارینه وو سره مرکې کړلای نه شي، د هر راپور چمتو کولو لپاره باید جلا اسناد ولري. په راپورونو او تلویزیوني پروگرامونو کې د ځینو کلمو په کارولو بندیز، له محرم پرته د راپور په چمتو کولو بندیز،په راډیویي خپرونو کې د ښځو پر خندا بندیز، د هېواد په اکثرو ولایتونو کې په رسنیو کې د ښځو د غږونو پر خپرېدو بندیز، د نجونو د کانکور له ازموینې څخه د ژورنالېزم په برخه کې د ډېرو رسنیو د تفریحي پروگرامونو بندول، نور بندیزونه دي، چې پر ښځینهوو لگول شوي دي.

یوه میاشت بندیزونه د بېلگې په توگه

راځئ، دلته یوازې د ۲۰۲۳ کال د جولای د میاشتې هغه ځانگړې پېښې راواخلو، چې ښځینه خبریالانې او رسنۍ ورسره مخامخ شوې دي:

د ښځینه خبریالانو پر وړاندې د تاوتریخوالي پېښې

د جولای په میاشت کې د ښځینه خبریالانو پر وړاندې د تاوتریخوالي دوه قضیې ثبت شوې دي:

جنسیتي تبعیض

د جنسیتي تبعیض ربړه په مرکز کې او ولایتونو کې روانه ده. د جولای میاشت کې په هرات ښار کې یو لړ نندارتونونه جوړ شوي وو، خو ښځینه خبریالانو ته اجازه نه وه ورکړل شوې چې د دغو نندارتونونو په اړه راپورونه چمتو کړي.

معلوماتو ته لاسرسی

د خبریالانو په تیره بیا د ښځینه خبریالانو لپاره بله لویه ننگونه معلوماتو ته نه‌لاسرسی دی. طالب چارواکي د ښځینه خبریالانو پر وړاندې تبعضي چلند کوي او د معلوماتو له ورکولو ډه ډه کوي.

د معلوماتو سانسور

د طالبانو حکومت د رسنیو شدیده څارنه کوي. د خبریالانو د معلوماتو پر بېښت رسنۍ نه شي کولای هغه قضیې او پېښې خپرې کړي، چې د حکومت کمزوري ښیي. خبریالان وایي: بې وزلي، وزگارتیا او د ښځو پر وړاندې تاوتریخوالی او له کار د محرومیت مسئله، د نجونو لپاره د ښوونځیو او پوهنتونونو تړل او داسې نور مسایل د رسنیو تر پوښښ لاندې نه راځي. له بلې خوا د ښځو په اړه د روغتیایي مسایلو خپرول د حکومت له خوا فحاشي ګڼل کېږي.

بې‌وزلي

بې‌وزلي او وزګارتيا يوه له هغو ننګونو څخه ده، چې د طالبانو امارت تر ټينګېدو روسته يې د ښځينه خبريالانو په ګډون د هيواد ټول رسنوال ورسره مخامخ دي. د ۲۰۲۲ کال د سپټمبر په مياشت کې د افغان خبريالانو د دفاع ټولنو ځينو څېړنو له مخې ۸۹۹ ښځينه خبريالانې د رسنيو د اقتصادي کمزورتيا په ګډون د بېلابېلو لاملونو له امله بېکاره شوې دي. يو افغان خبريال چې د امنيتي ستونزو له امله د نوم د اخيستلو ډډه کوي وايي: "مور د خپلو کارکوونکو د معاشونو د ورکړې توان نه لرو او د بوديجې د نشتوالي له امله نه شوکړای د خپلو همکارانو معاشونه ورکړو."

دغه راز په کابل کې ګڼ خبري اژانسونه لکه فرحت خبري اژانس، حاما خبري اژانس، توانا، پيګرد، رويداد او يک تلويزيون هم د بوديجې د نشتوالي له امله د خپلو کارکوونکو معاشونه نه شي ورکولی.

بلخوا د ننګرهار او بدخشان په رسنيو کې ښځينه خبريالانې له معاش پرته کار کوي. د رسنيو مسوولين وايي، چې د هېواد رسنيزه ټولنه له کړکېچ سره مخ ده، که دا وضعيت دوام وکړي، رسنۍ به نور په هېواد کې خپل کار ته دوام ورنه کړلای شي. ښځينه خبريالانې له دې امله اندېښمنې دي، چې د خپلو کورنيو يوازينۍ ډوډۍ بودوونکې دي. د دوی له وزګارۍ سره يوازې دوی نه، بلکې ټوله کورنۍ له ولړې سره مخامخېږي.

له هېواده بهر

هغه خبريالانې چې له هېواده وتلې دي، يوازې په دې هيله، چې دوی او کورنۍ يې خوندي پاتې شي، هم له ګڼو ستونزو سره مخامخ دي. له دې ښځينه رسنوالو څخه ځينې يې په ګاونډيو هېوادونو – په تېره پاکستان او ايران کې – په خورا بد حالت کې دي. پاکستاني پوليس هره ورځ افغانان نيسي- او کړوي يې، چې په دوی کې خبريالان او ښځينه افغان خبريالانې هم شاملې دي.

په ايران کې وضعيت تر دې خراب دی. يو شمېر خبريالانې لويديزو هېوادونو ته د تللو په تکل په داسې مبهم برزخ کې ژوند کوي، چې نه يې د کډوالۍ برخليک څرګنديږي او نه هم وطن ته ستنېدلای شي. هغه خبريالانې چې لويديزو هېوادونو ته تللې، له سختو اندېښنو سره مخامخ دي، چې ښايي خپل مسلک ته دوام ورنه کړلای شي، ځکه د دوی د جذب لپاره رسنيز ظرفيتونه نشته او ښايي دوی په نورو نامسلکي چارو بوختې شي.

څه بايد وشي؟

ترهرڅه وړاندې مور د افغان ښځو او په تېره بيا ښځينه رسنوالو په اړه د نړۍ عامه ذهنيت روښانولو ته اړ يو. ټول هغه بنسټونه، سازمانونه، ټولنې او اغېزناک شخصيتونه چې په دې برخه کې څه کړلای شي، ښايي يوې عملي حل لارې موندلو ته وهڅول شي.

د بشپړې څېړنې په رڼا کې مور په دې پوهېدلای شو، چې په هېواد کې دننه، د سيمې په هېوادونو او نوره نړۍ کې د افغان ښځينه ژورنالېستانو لپاره څه وکړو؟

د افغان خبريالانو د ملاتړ سازمان په خپلو لومړنيو فعاليتونو کې دې چارې ته لومړيتوب ورکړی او خپله تر ټولو فعاله او کارنده څانګه (د ښځينه خبريالانو د ملاتړ کومېټه) يې فعال کړې ده ، چې:

- د افغان ښځينه خبريالانو د حقوقي، اقتصادي او بشري ملاتړ لپاره د دوی غږ پورته کړي.

- هغه افغان خبریالانې، چې دننه په هېواد، په ګاونډیو هېوادونو یا د نړۍ په نورو هېوادونو کې د تبعید و کډوالۍ سختې شپې ورځې تېروي، له نړۍ سره وصل کړي او د دوی ستونزو ته حللارې ولټوي.
- په رسنیو کې د مېرمنو فعال حضور وساتي. که دننه په هېواد کې د هغو فعال شتون محدودیږي، باید ځایناستي (بدیل) امکانات ورته ومومندل شي. لنډه یې دا چې نښایي په تبعید کې د افغان مېرمنو لپاره یوه فعاله رسنۍ رامنځته شي.
- په افغانستان کې د نښځو له وضعیت څخه د دقیق رسنیز پوښښ لپاره حللارې پیدا کړي.
- د افغان نښځینه خبریالانو او رسنوالو د مهارتونو، تجربو، علمي – تخصصي ـ زدکړو لپاره لار هواره کړي، شته ظرفیتونه لوړ او نوي ظرفیتونه راوپنځوي. او په تبعید کې دوی ته په خپلو مسلکي څانګو کې د کارموندنې امکانات وپلټي.
- (له نښځمنو د نښځمنو ملاتړ) د افغان نجونو او مېرمنو د غږ اورېدو، له دوی سره د عملي ملاتړ او مرستې لپاره د نړۍ د ټولو نښځو، نښځینه فعالانو، مشهورو څېرو، موسسو، بنسټونو او سازمانو د پاملرنې او ملګرتیا راپنځول.
- د داسې یوې حقوقي څانګې جوړول، چې هرې افغانې رسنوالې مېرمن ته د نړۍ په هرځای کې حقوقي مرسته ورسولای شي.

په سازمان کې یاده کومېته د نښځینه ژورنالیستانو او متخصصانو له خوا فعاله شوې او کار کوي، د سازمان نور غړي په مشورتي او حمایتي برخو کې د کومېټې ملاتړ کوي.

په دې هره برخه کې مشخصې او علمي طرحې تر کار لاندې دي، چې ژر به یې په اړه له ښاښلو بنسټونو سره خبرې وشي.

مورږ پر ټولو افغان او نړیوالو سازمانونو غږ کوو، چې په دې چاره کې د سازمان ترڅنګ ودریږي او د افغان نښځینه رسنوالو د ژغورنې لپاره عمل وکړي.

په دې هیله، چې یوه ورځ بیا، لکه ۲۲ کاله پخوا افغان ژورنالیستانې له هر راز ناقانونه محدودیت پرته د مایک تر شا کینې، خبرونه او خپرونې تولید کړي او د تلویزیونونو پر سکرینونو د پرمختګ، سولې او بشرۍ حقونو د تأمین زیري خپاره کړي.

د افغانستان له خبریالانو ملاتړ سازمان